**عربي ژبه امت ته له خپل دين سره تړاو ورکوي!**

(ژباړه)




**خبر**

په ډېرو غربي هېوادونو کې ځينې سياستوال ټينګار کوي چې د جمعې ورځې خطبه دې د هماغه هېواد په رسمي ژبه ولوستل شي. په جرمنی کې امام بايد په جرمني، په ايټاليا کې په ايټالوي، په انګليس کې په انګليسي او په فرانسه کې په فرانسوي ژبو خطبه ولولي او د دې خبرې د توجيه لپاره هغوی دوې ډلې شوي: لومړۍ ډلې ويلي چې بايد د ترهګرۍ ضد ستراتېژۍ په په نامه پلې شي او بلې ډلې ويلي چې دا کار به ټولنيزې ګډوډۍ ډېرې کړي.

**تبصره**

دغې انګېزي ته په غور کتو سره چې د جمعې لمانځه خطبه په فرانسوي، ايټالوی، جرمني يا انګليسي ژبو ولوستل شي، حکومتونو لاندې ټکي دليل راوړي:

په انګليس کې د حکومت لوړپوړو سرچينو ويلي: «که امامان خطبه په عربي ژبه ولولي، دا ډېره ستونزمنه ده تر څو وپوهېږو چې افراطيت نه خپرېږي.» د جرمني د ماليې وزارت معين د داسې قانون غوښتنه وکړه چې په رڼا کې يې امام د جمعې د ورځې خطبه په واضح ډول په جرمني ژبه وويلی شي او حکومت پوه شي چې په جوماتونو کې څه کېږي.

هغه مسلمانان چې په اروپا کې ژوند کوي، دا بايد درک کړي چې وړاندې شوي دليلونه سطحي او په اسانۍ ردېدلی شي. دغه راز په دې بايد وپوهېږي چې د دغو بدلونونو تر شا لوی شيطاني پلان پټ دی. همدارنګه هغه دليل چې وايي د خطبې لوستل له عربي ژبې پرته د هېواد په رسمي ژبه لنډ مهال ټولنيز اختلاط ته وده ورکوي او هېڅ وخت نه دي ليدل شوي چې په دويمه ژبه خبرې کول د ټولنيز اختلاط خنډ کرځېدلی وي. که په يوه اونۍ کې خطبه په عربي ژبه، چې له دوو ساعتونو ډېر وخت نه نيسي، و نه لوستل شي؛ واقعاً دا د ټولنيز اختلاط خنډ ګرځي؟ نو دا کوم شيطاني پلان دی چې تر شا يې پروت دی؟

غربيان په دې پوهېږي چې عربي ژبه امت ته له خپل دين سره د اړيکې وسيله ده، دا د سنتو او قران ژبه ده. کله چې عربي ژبه له لاسه ورکړي، په قران او سنتو به ونه پوهيږي او په دې سره به د اسلام حاکميت هم له منځه لاړ شي.کله چې د اسلام د حاکميت اصل له منځه لاړ شي، نو له عربي ژبې دويمې ژبې ته د خطبې د بدلولو پلان د دوی له هغو لويو شيطاني کمپاينونو څخه دی، چې ډېر کلونه پخوا يې پلان کړي وو او يوازينۍ موخه يې د مسلمانانو، عربي ژبې او اسلام تر منځ اړيکه پرېکول دي.

هغه مسلمانان چې په اروپا کې ژوند کوي، کله چې دولت ورڅخه په دين کې د بدلونو غوښتنه وکړي، بايد ډېر غور وکړي او په خپل دين ټينګ وي. وروسته به هغوی دا درک کړي چې کفارو تل عربي ژبه ددې لپاره خپله موخه ګرځولې، چې پر دين د سم پوهاوي لپاره عربي ته اړتيا ده. له همدې امله بايد اسلامي امت عربي ژبې ته پاملرنه وکړي، پانګونه پرې وکړي، په خپل ژوند او خپل راتلونکي نسل ته يې اصل وګرځوي. هر څنډ چې په دغه لار کې پيدا کېږي، امت يې بايد لرې کړي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ياسمين مالک**

**۱۴۳۸ هـ.ق، د شعبان ۱**

**۲۰۱۷، د اپرېل ۲۸مه**